UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړي استازي ښاغلي تدامیچي یماموتو وینا**

(څنګه چې وړاندې شوې)

**نیویارک، د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر ۱۰**

* * *

ښاغلی رییس،

د امنیت شورا غړو،

د ورستیو ورځو او اونیو پېښو وښودله چې له هر څه نه زیات اوږدې افغان شخړې ته د یوه چټک سیاسي حل موندلو لپاره اړتیا لیدله کیږي. د تیرکال په ترڅ کې هڅو د سولې لپاره فرصتونه را منځ ته کړل. یادو فرصتونو، دواړه، د ډیرو لپاره هیلې او ویره هم را منځ ته کړه. خو یو ټکی لا هم څرګند دی. روښانه پاتې دی: شخړه یوازې د افغانانو ترمنځ د مستقیمو خبرو اترو له لارې حل کیدلی شي. دا خبرې باید ټولشموله وي ، او د افغاني ټولنې د ټولو برخو څخه استازیتوب وکړي.

نو له همدې امله اړینه ده چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو ترمنځ مستقیمې خبرې اترې ژر تر ژره پیل شي. دې موخې د ترلاسه کولو لپاره له افغاني ګوندونو سره د ګډ کار کولو لپاره ډیرې هڅې ترسره شوې دي. دې هڅو یو فرصت رامنځ ته کړ، چیرې چې د دواړو افغان ډلو تر منځ د مستقیمو خبرو پیل شونی ښکاري. خو په اغلبو مواردو کې ، موافقې ته له رسېدو څخه وړاندې موده ترټولو ستونزمن پړاو دی. ټول هغه خلک چې د سولې د هڅو سره تړاو لري ، له ټولو څخه د مخه د شخړې ښکیلې خواووې، اړتیا لري څو د مستقیمو خبرو اترو د رامنځ ته کولو لپاره په دوامداره توګه کار وکړي. زه په ښکېلو اړخونو غږ کوم چې د مستقیمو خبرو فرصت څخه ګټه پورته کړي ترڅو یوه سوله ییزه راتلونکې رامنځ ته شي.

ما د ټول هیواد څخه ډیری خلکو ته غوږ نیولی چې د راتلونکې په اړه یې خپلې هیلې او ویرې څرګندې کړې. دوی د شخړې پای ته د رسیدو په تمه دي ، مګر دوی دا ویره هم لري چې سوله به د آزادۍ او هغو حقونو په بیه لاسته راشي چې هیواد یې د تیرو ۱۸ کلونو لپاره د ساتنې او پرمختګ لپاره هلې ځلې کوي. ډیری ځوانان ، په ځانګړي توګه ځوانې ښځې ، د خپل هیواد په ټولنیز - اقتصادي او سیاسي ژوند کې د دوی د ګډون د محدودیتونو په اړه اندیښمن دي. په هر سیاسي جوړجاړې کې باید داسې ژمنتیا شتون ولري چې هر هغه څوک چې په افغانستان ژوند کوي، د هغوی د بشري حقونو او اساسي آزادیو ، د ښځو ، ځوانانو او لږکیو ، او همدارنګه د بیان د آزادي او رسنیو پشمول، ساتنه او هغو ته وده ورکړل شي. د تیرو ۱۸ کلونو یوه بله مهمه لاسته راوړنه، چې باید وساتل شي او لا ورته وده ورکړل شيي، هغه د امنیت او خدمتونو وړاندی کولو په شمول د دولت اداري وړتیاوې ده.

په مسکو او دوحه کې د افغاني ټولنې او طالبانو د استازو ترمنځ وروستۍ غیر رسمي خبرې، د خبرو لپاره فرصتونه برابر کړل ترڅو د سولې لپاره ځینو اړینو او مهمو مسلو ته رسیدګي وشي. زه هیله لرم چې دا تجربه به دوام ومومي او د رغنده پایلو لپاره د خبرو اترو په برخه کې مرسته وکړي. ملګري ملتونه چمتو دي د خپل بې پربتوب او تخصص په پام کې نیولو سره، د بین الافغانی پروسې ملاتړ وکړي.

زه هم غواړم چې دا په ګوته کړم چې د سولې هڅې باید د تاوتریخوالې د کموالی سبب وګرځی او په پای کې یې اروبند را مینځ ته شي.

بلاخره ، د سیمې هیوادونو او د سیمې هاخوا د هیوادونو ملاتړ لاهم اړین دی. د سولې هڅو سره د دوی فعاله ښکېلتیا او ملاتړ به لازمي وي ، په ځانګړي توګه د ګاونډیو هیوادونو ښکېلتیا او ملاتړ کوم چې په افغانستان کې د سولې او ثبات څخه تر ټولو ډیرې ګټې لاسته راوړي.

ښاغلي رییس،

تمه کیږی چې د سپټمبر په ۲۸ نیټه ، به د افغانستان خلک د ولسمشرۍ د ټاکنو په خاطر د رایو صندوقونو ته ولاړ شي چې دا به له ۲۰۰۱ کال راهیسې د څلورم ځل لپاره د ولسمشرۍ ټاکنې وي. دغه هیواد به د یوه نماینده دیموکراتیک سیاسي بنیاد د پیاوړتیا لپاره یو بل ګام پورته کړي. ملګري ملتونه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ، او د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون ، د امنیتی ارګانونو، مدني ټولنو او په ځانګړي توګه نوماندان ، د دوی ملاتړ کونکي او رای ورکوونکي د مهالویش پراساس د باور وړ او ټول شموله ټاکنو ترسره کولو، بشپړ ملاتړ کوي. معتبرې ټاکنې به د هیواد راتلونکي لپاره یو مهم سیاسي بنسټ او همدارنګه ټاکل شوي ولسمشر ته مشروعیت او اقتدار ورکړي ، کوم چې به د سولې پروسې په پام کې نیولو سره ، خورا مهم وي.

د ټاکنو لپاره تخنیکي او عملیاتي چمتووالی ، چې د افغان ادارو لخوا رهبري کیږي ، چارې یې تر اوسه پورې په سمه رواني دي. د رای پاڼو او د رایې ورکونې د نورو توکي استول ولایتونو او ولسوالیو ته دوام لري . د رای ورکونې د کارمندانو استخدام او روزنه روانه ده. د بریښنایي ټیکنالوژۍ وخت د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا اداره کیږي. د رایې ورکوونکو لیست تجدید شوی او له نهو میلیونو څخه ډیر ریکارډونه د خلکو له نظره او د سمون او اصلاح له بهیر څخه تیر شوې. دا د اصلاحاتو ځینې مثالونه دي چې د تیر کال پارلماني ټاکنو څخه زده کړل شوي درسونه منعکس کوي. دا او نور اقدامات به د ټاکنو د روڼتیا او اعتبار زیاتولو لپاره ډیزاین شوي، چی د درغلیو کمولو مهمو اړخونو ته وده ورکړي. زموږ د ملګرو ملتونو مشاورین د شدیدې تیاریو پدې تیرو اونیو او ورځو کې د انتخاباتي مدیریت له ادارو سره اوږه په اوږه کار کوي.

په هرصورت ، اندیښنې لاهم د ټاکنو دمخه پاتې دي. یو یې امنیت دی ، بل یې د رایه ورکونکو ګډون ، او بل یې احتمالي درغلې او بې نظمی دي. د نړیوالو همکارانو په مرسته د افغانستان امنیتي بنسټونو جدي هڅې روانې کړې ترڅو د چمتووالې او د رای ورکونې د ورځو په جریان کې د کافی امنیت چمتووالی تضمین کړي. په هرصورت ، موږ لاهم د افغانانو لخوا ډیری اندیښنې اورو چې په ځانګړي ډول د طالبانو لخوا ویل شوي چې د ټاکنو پروسې ګډوډوي، په تیره بیا، په ټاکنو کې برخه اخیستونکي ملکي وګړي په نښه کوي. هغه بریدونه چې د رای ورکونې د مرکزونو او ملکي وګړو په وړاندې تر سره کیږې کوم چی د ټاکنو په پروسه کې برخه اخلي، د منلو وړ ندي؛ دا ټول بریدونه د نړیوال قانون څخه سرغړونه ګڼل کیږي. زه له طالبانو څخه غواړم چې خپل ګواښ بیرته واخلي ، او زه له دولت څخه غواړم چې د انتخاباتي پروسې د ساتنې لپاره کافی امنیت چمتو کړي.

د رایې ورکونکو ګډون د ټاکنو لپاره مهم دی. ۹.۶ ملیونه خلکو نوم لیکنه کړې. امنیت کولای شي چی د رایې ورکوونکو رای ورکولو باندی منفي اغیزه واچوي، همدارنګه د رای ورکوونکو عمومی لیوالتیا هم د رای ورکولو په بهیر منفې تاثیر غورځوی. زموږ د ساحوي دفترونو د معلوماتو په اساس ، زموږ درک دا دی چې په ټاکنو کې لیوالتیا هغومره لوړه نده لکه څومره چې باید وی. په قسمی توګه ددی علت دا دی چی د سولې په پروسه کې قوی لیوالتیا شتون لری او همدارنګه، کمپاینونه چې د جولای

په ۲۸ پیل شوي ، په پوره جوش سره پیل شوی ندي. زه له افغانانو څخه غوښتنه کوم چې د رایې ورکولو له حق څخه کار واخلي. د ټاکنو کمیسون او نوماندان هم باید خلکو باندې غږ وکړي چې راووځی او رایې ورکړي.

ښاغلي رییس،

بله ننګونه ، کومه چې کولی شي اعتبار باندې تاثیر وکړي ، د درغلیو او بې نظمیو مسله ده ، په کوم کې چې د ټولو کاندیدانو د انتخاباتي فعالیتونو لپاره په مساوي توګه د زمینې برابر کول، شامل دي. پدې برخه کې ، زه باید دا په ګوته کړم چې غوره تخنیکي چمتوالي نشي کولی د سیاسي ژمنې ځای ونیسی، هغه دا چې د مقرراتو سره سم فعالیتونه ترسره شي او د ټاکنو پایلې ومنل شي.

نوماندان ، سیاسي ګوندونه ، مدني ټولنه او رسنۍ ټول د دې وړتیا لري چې د ټاکنو په ورځ پروسې ته څارونکي وټاکي ، نو زه په ټولو ښکېلو اړخونو غږ کوم چې د ټاکنو په خپلواک کمیسیون کې اعتبار لیکونه ترلاسه کړي ترڅو د رای ورکونې په هر مرکز کې حضور ولري. زه له ټولو فعالینو څخه هم غوښتنه کوم چې د داسې اقداماتو څخه ډډه وکړي چې کوم نوماند ته نامناسبه ګټه ورسوي یا د پروسې مشروعیت او اعتبار تر پوښتنې لاندې راولي. زه ټول ښکیل اړخونه هڅوم چې د شکایتونو د سرغړونې قضیې، د شکایتونو کمیسیون پشمول، اړونده ارګانونو ته وسپاري.

د ټولټاکنو وروسته د کاندیدانو ، سیاستمدارانو لپاره ترټولو سخت انتخاب د ماتې منل دي ، خو، دا په دیموکراتیکه پروسه کې د سیاستمدارې ستره کړنه ده. ټولې تخنیکي او عملیاتي هڅې په لاره اچول شوي چې د ولسمشرۍ ټاکنې د اعتبار وړ وګڼل شی. زه له ټولو نوماندانو او ملاتړ کونکو څخه غوښتنه کوم چې دیموکراتیکې پروسې ته درناوی وکړي ترڅو د خلکو او هیواد لپاره د منلو وړ پایلې ته ورسیږي.

ښاغلي رییس،

د سولې لپاره هڅې باید د تاوتریخوالي د کمولو سره مل وي. تر دې دمه ، په دې وروستیو ورځو کې تاوتریخوالی شدت موندلی. په کندوز ، بغلان او فراه کې د یاغیانو وروستي بریدونه او پدی سره بیره په کابل کې ځو حملو جدي اندیښنې را منځ ته کړی. په خبرو اترو کې د برلاسی ترلاسه کولو لپاره جګړی ته شدت ورکول، عذر نشي کیدی. د شخړې خواوې باید تاوتریخوالی او ملکي تلفات راکم کړي تر څو د سولې لپاره خپل جدیت وښيي.

زه د دې بریدونو لخوا د ملکي تلفاتو د دوامداره لوړې شمیرې له امله ډیر خپه او خواشینې یم. په ځانګړي توګه ، زه باید په ګوته کړم چې د ملکي خلکو په قصدي ډول په نښه کول د جدي اندیښنې وړ موضوع ده ، او دا یو جنګي جرم دی. د لټون عملیاتو او هوایی بریدونو په جریان کې د وژل شویو ملکي وګړو ډیریدل د اندیښنې وړ ده. زه له ټولو خواو څخه غوښتنه کوم چې د خپلو عملیاتو د ترسره کولو څرنګوالي له سره بیاکتنه وکړي ، ترڅو د ملکي وګړو ساتنه وکړي او زیانونه راکم کړي.

پدې برخه کې ، زه په عراق او شام - خراسان ولایت (داعش) کې د اسلامي دولت لخوا ملکي وګړو ته د دوامداره زیان په اړه ژوره اندیښنه څرګندوم ، کوم چې د یو دوامداره او نه ختمیدونکې رنځ ښکارندویي کوي او لا نور هم وسعت مومي.

ښاغلي رییس،

پداسې حال کې چې د سولې لپاره لټه دوام لري، راځئ چې په ملیونونه خلک په ټول افغانستان کې هیر نکړو چې د جګړو د پایلو له امله له رنځ سره مخ دي. د ملګرو ملتونو اداري او غیر دولتي سازمانونه دا مهال د هیواد د ۴۰۰ ولسوالیو څخه په ۳۳۱ کې،

په ځانګړي توګه د کرنې ، تعليم او روغتيا برخو کې، فعاليت کوي. د دوی لاسرسی يوه لنډمهاله هوساينه او د ښې راتلونکې لپاره بنيادی اساس، وړاندې کوي.

په ورته وخت کې ، دا هيڅکله د وخت څخه مخکې خبره نده چې د سولې وروسته خلکو سره د مرستې څرنګوالي په اړه او د سولې خبرې اترې په جريان کې، فکر پيل کړئ . نړيوالې ټولنې لا دمخه د ملګرو ملتونو او د انګلستان په څير هيوادونو کې د نړيوال بانک په مشرۍ د سولې وروسته د مرستې لپاره يوه مطالعه پيل کړې. له افغانستان سره نړيوالې مرستې او دوه اړخيز ژمنې - چې په ۲۰۱۲ کال کې د لندن ، بروکسل او ژينيو کنفرانسونو له لارې په توکيو کې د وزيرانو په ناسته کې پيل شوی دی، بايد بيا وڅيړل شي ترڅو نوی اړتياوی او وضعيتونه چې د سولې له امله منځته رازی، پوره کړي. د ملګرو ملتونو سازمان د جنيوا د وزيرانو کنفرانس د مشترک رييس په توګه پدې برخه کې خبر ده چې په قوی توګه په دغه ساحه کې کار وشي او موږ د ۲۰۲۰ کال د وزيرانو کنفرانس له راتلونکي نوي ګډ رييس سره ، چې لا تراوسه ټاکل شوی نه دی، کار کولو ته چمتو يو.

ښاغلي رييس،

زه نشم کولی د سولې د تامين لپاره د هڅو د پرمختګ په اهميت او د بين الافغانی خبرو اترو د پيل په اړه، په کافی اندازه ټينګار وکړم. د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د سولې د تيرو خبرو اترو مثالونه ښيې چې څنګه چې د رغنده خبرو امکان رښتينی کيږي ، ننګونې به هم ډيرې شي. وروستۍ مرحلې چې د بين الفغانی خبرو اترو د پيل لامل ګرځي ډيرې ستونزمن کيږي او کلک مديريت ته اړتيا لري. دوی له موږ ټولو څخه همکارۍ ته اړتيا لري. ملګري ملتونه د ټولو هغو هڅو ستاينه کوي چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت او طالبانو ترمنځ د مستقيمو خبرو اترو لپاره رامنځ ته کيږي او موږ به په ملګرو ملتونو کې د ورته هڅو د کمک لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړو.

* * *

*يوناما د سولې او ټيکاو په برخه کې د افغانستان د خلکو او حکومت ملاتړ کوي. د يوه سياسي ماموريت په حيث د خپل ماموريت سره په سمون کې، يوناما د شخړې د مخنيوي او د هغه د حل ملاتړ کوي، ټولشمولوالي او ټولنيز پيوستون ته وده ورکوي او همدارنګه سيمه ييزه همکاري پياوړي کوي. ماموريت د موثرې حکومتولۍ ملاتړ کوي، ملي مالکيت او حسابورکونکو ادارو ته چې د بشري حقونو د درناوي او ساتنې لپاره را منځ ته شوي،وده ورکوي. يوناما د ديپلوماتيکو اقدامونو په شمول کوم چې د سازمان د خپلواکې، بې طرفي او ربښتنولي په ګټې اخيستنې سره د شخړو د پيښيدو، زياتيدو او خپريدو مخه ونيسي، ماموريت د " ښه نيت هڅې " او نور خدمتونه برابروي. ماموريت د افغانستان د پراختيا او بشري لومړيتوبونو لپاره نړيوالي مرستې همغږې کوي.*